# د افغانستان اسلامي امارت

## د ارشاد، حج او اوقافو وزارت

### د مساجدو د ارشاد او انسجام ریاست

**د جمعې ورځې د خطابت موضوع او**
**لیکلي تقریر اوبیان چې د هیواد دمرکز او ولایاتو**
**ټولو خطیبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې لیږل کیږي**

---

**۲۳/ ربیع الثاني /۱۴۴۴ هـ ق مطابق ۲۷/عقرب/۱۴۰۱هـ ش**

## دشایعاتو اوبې بنیاده خبرونو له خپرولو او په هغو باندې له باور کولوڅخه ځان ساتل

الحمدلله رب العلمین الذی رضی لنا الاسلام دیناً وجعلنا من خیر امة اخرجت للناس وامرنا بالتمسک بهذالدین والثبات علیه الی الممات وحذرنامن الاکاذیب والافترآت والصلوة والسلام علی رسوله محمدصلی الله علیه وعلی آله واصحابه اجمعین .

وبعد!

قال الله تعالی: {وَلاَ تَقْفُ مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ إِنَّ السَّمْعَ وَالْبَصَرَ وَالْفُؤَادَ كُلُّ أُولـئِكَ كَانَ عَنْهُ مَسْؤُولاً }اسراء:(۳۶)

دشایعاتو او بې بنیاده خبرونوخپرول په حقیقت کې درواغ خپرول دي.

شایعات او بې بنیاده خبرونو خپرول ددښمن هغه سلاح ده چې پرته له مقابلې د مسلمانانو روحیه او مورال کمزوری کوي او د مسلمانانو په صفوفو کې درز رامنځ ته کوي او د مسلمانانو او دحق دلارې د مجاهدینو د روحیې د تضعیف او روحي شکست لامل گرځي.

همدا شایعات او بې بنیاده خبرونه او تبلیغات دي چې اسلامي لښکرو ته ماتي ورکوي او اسلامي لښکری د مزل څخه پاتې کوي .

شایعات او بې بنیاده خبرونه ددښمن معنوي ماینونه دي، د دښمن مرمۍ دي او ددښمن جالونه دي چې د مسلمانانو اساس لړزوي.

واقعیت دادی چې شایعات او بې بنیاده خبرونو خپرول بې شمیره ټولنې یې ړنګې کړي دي او زیات کورونه یې نړولي دي او ورونه یې یو بل څخه جدا کړي دي، پلار یې د زوی څخه جلا کړی دی او ښځه یې د خاوند څخه جلا کړی ده. د شایعات او بې بنیاده خبرونو خپرولو له امله دخوږو دوستانو دوستي په دښمنۍ بدلیږي.

پرته له تحقیق شایعات او بې بنیاده خبرونو نشرول په خلکو کې بې باوري رامنځ ته کوي ، دانسانانو ترمنځ تربگنۍ رامنځ ته کوي، انسانان سره په شخړو اړوي او زړونه یې آزاروي او زوروي، بې اساسه خبرونو خپرول په ټولنه کې نفرت او بد بیني زیږوي او د فتنو اور بلوي.

د شایعاتو او بې بنیاده خبرونو نشرولو له امله د پاکدامنو په لمن د تهمت داغ لږول کیږي او د سپیڅلو اشخاصو تقدس له منځ وړل کیږي او د خلکو عزت او ابرو له منځه ځي.

د بې بنیاده خبرونو دستگاه گانې ټولې د یهودو او نصاراوو په واک کې دي لکه خبري سایټونه، رادیو گانې انټرنټي ټولنیزې صفحې او د مسلمانانو د ځینو لپاره کفارو رامنځ ته کړي دي.لکه: بی بی سی،آزادی غلامی، آشنا رادیو، سیگار اوداسی نوری رسنۍ... نن صبا د بې بنیاده خبرونه او تبلیغات د دښمن هغه خطرناکه سلاح ده چې اسلامي امت او اسلامي ټولنې ورباندې ځپي او دمسلمانانو پوری ډول ډول تهمتونه او بهتانونه تړي چې ټولې خبري او تبلیغاتي سرچینې د کفارو له خوا اداره کیږي.

همدا غربي رسنۍ دي چې د مسلمانانو ترمنځ کرکه ، نفرت او دوښمنيو ته لمن وهي او داسلامي ټولنو د فکر ، عقيده او ارزښتونه نړيوالو ته بد معرفي کوي او د اسلام د مقدس ناوړه تصور خلکو ته وړاندې کوي. د دښمن زهرجن بې ځايه تبليغات دي چې د نړۍ مسلمانان يې سره ويشلي دي. د شايعاتو او بې بنياده خبرونو د خپرولو لپاره غربي نړۍ شپه او ورځ کار کوي.

نن صبا رسنۍ او بې ځايه تبليغات ټوله اسلامي نړۍ د خپل اغيز لاندې راوستې ده او دا رسنۍ دي چې شايعات او بې بنياده خبرونه خپروي او د مسلمانانو په وړاندې د يرغل اوجګړې دوهم شکل اختيار کړی دی.
شايعات او بې بنياده خبرونه خپرول د حق او مستقيم لارې څخه سرې ړندوي.
د شايعاتو خپرولو ضرر د قتل او وهلو څخه زيات دی.ځکه په قتل کې يو کس وژل کيږي اوبې بنياده شايعات ټولنه وژني. شايعات د بزدلو له خوا خپريږي او غبيان ورباندې باورکوي.
شايعات او بې بنياده خبرونه خپرول دروغ خپرول دي:

د شايعاتو او بې بنيا ده خبرونو خپرول په حقيقت کې ددرواغو خپرول دي؛ ځکه چې په اکثره وختونو کې شايعات او بې بنياده خبرې درواغ وي. څوک چې بې بنياده خبرې پرته له تحقيق خپروي په حقيقت کې درواغ خپروي او په درواغجن باندې دالله تعالی لعنت دی او لويه ګناه ده.
الله جل جلاله:{ فَنَجْعَلْ لَعْنَتَ اللَّهِ عَلَى الْكَاذِبِينَ} آل عمران: (٦١)
ژباړه:- نو وبه ګرځوو مونږ(وبه وايو)لعنت د الله په دروغجنانو باندي.
{قُتِلَ الْخَرَّاصُونَ } الذاريات: (١٠)
ژباړه:لعنت کړی شوی دی پر دروغ و يونکيو اټکل کونکيو باندي.
{إِنَّ اللَّهَ لا يَهْدِي مَنْ هُوَ مُسْرِفٌ كَذَّابٌ}غافر:(٢٨)
ژباړه:- بيشکه الله سمه لاره نه ښيي هر هغه چاته يي هغه مسرف له حده تيريدونکی وي ډير دروغجن وی.
مسلمان لره نه ښايې چې هغه څه نشر کړي چې ورڅخه مطمئن نه وي ؛ ځکه ددې ټولو خبرو پوښتنه کيږي او کوم اعضاء چې په دې کار کې برخه اخلي ورڅخه به يې پوښتنه وشي. الله تهالی فرمايي:
{وَلاَ تَقْفُ مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ إِنَّ السَّمْعَ وَالْبَصَرَ وَالْفُؤَادَ كُلُّ أُولِئكَ كَانَ عَنْهُ مَسْؤُولاً} الاسراء:(٣٦)
ژباړه:- او مه کوه پيروی (تعقيب)دهغه کار چه نه وي تاته په هغه پوه (قول وی که فعل)بيشکه غوږ او سترګه او زړه؛هريو له دغو(دری واړو)دی له هغه څخه پوښتنه کړی شوی.
رسول الله صلی الله عليه وسلم د بې بنياده خبرو له خپرولو څخه منع کړی ده او پرته له تحقيق څخه د خبرو نشرول يې درواغ ګڼلي دي. په حديث شريف کې رازي:( كَفَى بالمَرْءِ كَذِباً أنْ يُحَدِّثَ بِكُلِّ مَا سَمِعَ ). رواه مسلم .
ژباړه:- د شخص لپاره دومره درواغ بس دی چې خپروي ټول هغه څه چې واوري.
شايعات او بې بنياده خبرونو خپرول د منافقانو کاردی.
د شايعاتو او بې بنياده خبرونو خپرول د منافقانو خصلت دی.
په مدينه منوره کې به منافقانود مسلمانانو د شکست لپاره بی بنياده شايعات خپرول. او په دی سره به يی په مسلمانانو کې د ويری اچول او ددوی د اضطراب مقصدوه.

قرآن کریم څوارلس سوه کاله مخکې دا پدیده حرامه کړی ده او په داسې کسانو یې لعنت ویلی دی. الله جل جلاله فرمايي: {لَئِنْ لَمْ يَنْتَهِ الْمُنافِقُونَ وَالَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ مَرَضٌ وَالْمُرْجِفُونَ فِي الْمَدِينَةِ لَنُغْرِيَنَّكَ بِهِمْ ثُمَّ لا يُجاوِرُونَكَ فِيها إِلاَّ قَلِيلاً . مَلْعُونِينَ أَيْنَما ثُقِفُوا أُخِذُوا وَقُتِّلُوا تَقْتِيلاً} الاحزاب:(٦١)

ترجمه:- قسم دی که منع نشول منافقان(له نفاق څخه) اوهغه کسان چی په زړونو د دوی کی رنځ دی؛اوبدی اوازي ګډوونکی په (ښارد)مدینی کی نو خامخا به وګمارو مسلط به کړو مونږ خامخا تا پردوی بیا به همسایه توب ونه کړی (دوی)دتاپه دغه (مدینه کی)مګرلږوخت رټلی تر رټلی شوی هرچیری چی ومونډلی شی وبه نیولی شی اوبه وژلی شی په وژلو(دخواری سره)

په یو بل آیت مبارک آیت کې الله تعالی فرمايلي دي: {وَإِذَا جَاءهُمْ أَمْرٌ مِّنَ الأَمْنِ أَوِ الْخَوْفِ أَذَاعُواْ بِهِ}النساء:٨٢

ترجمه:- او کله چه راشی دی (منافقانو)ته کوم امر(خبره)له امن یا (کومه خبرله)ویری(هزیمت)نومشهوروی دوی هغه(خبر)

د شایعاتو خپرول او د مسلمانانو ترمنځ ویره او خوف اچول د منافقینو خوی او خصلت دی، باید چې مسلمان هغه څه خپاره نه کړي او باور وربانديې ونه کړي چې ورڅخه پوره ډاډه او مطمئن نه وي.

په حدیث شریف کې د شایعاتو او بې بنیاده خبرونو خپرولو څخه منع راغلی ده. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي: (بِئْسَ مَطِيَّةُ الرَّجُلِ زَعَمُوا). سنن أبی داود

ژباړه:- بده سورلی ده د یو شخص(تکیه کلام) چې وايي خلك داسی وایی یا دا ګمان کوی.

د شایعاتو او بې بنیاده خبرونو خپرول د تهمت او بهتان خپرول دي.

د خلکو په باره کې بې له تحقیق شایعات او بې بنیاده خبرونه خپرولو سره تهمت او بهتان خپریږي.

داسې ډیر کیږي چې شایعه د یو چا په اړه وي که چیرې په هغه شخص کې هغه خبره نه وي دا په هغه بهتان او تهمت ولګول شو اوکه چیرې شایع شوي معلومات په هغه شخص کې موجود وي بیا دا دهغه غیبت دی چې په دې ټولو صورتونو کې ناوړه او ناسم معلومات دي.
د رسول الله صلی الله په زمانه کې هم منافقانو د مسلمانانو په اړه ناسم معلومات خپرول.
د مثال په توګه د حضرت عايشې رضي الله عنها باندې تهمت لږیدل چې منافقانو دا شایعه خپره کړه او رسول الله صلی الله علیه وسلم په دې کار زیات خپه شو .
ددغې شایعاتو په خپرولو کې ځینې مسلمانان د ناپوهی له امله ښکیل شو؛ لکه حسان بن ثابت، مسطح بن اثاثة او حمنة بنت جحش الاسدية.[تفسير ابن أبی حاتم ]
الله تعالی د حضرت عائشې رضي الله عنها صفايې راولیږله او هغو کسانو ته یې سرزنش ورکړ چې په شایعاتو باور کوي.الله تعالی وفرمایل:{ لَوْلا إِذْ سَمِعْتُمُوهُ ظَنَّ الْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَاتُ بِأَنفُسِهِمْ خَيْراً وَقَالُوا هَذَا إِفْكٌ مُّبِينٌ} النور:(١٢)

ترجمه:- ولی نه په هغه وقت کښي چه واوریده تاسی دا خبره ګمان کاوه ایماندارو سړیو او ایمان دارو ښځوپه نفسونو خپلو(پخپلو منځونو)کښی دخیر خبری او ویلی وي(دوی ټولوداسی)داخبره دروغ ده ښکاره.

په دې آیت کریمه کې مونږ ته الله تعالی وفرمایل: چې په مسلمانانو باندې لکه د خپل ځان په شان نیک گمان په کاردی او پرته له ثبوته باید په شایعاتو کې برخه وانخلي.

حضرت عثمان رضي الله عنه د شایعاتو له امله په شهادت ورسول شو، د جمل او صفین واقعات د شایعاتو او بې بنیاده خبرونو د خپرولو او اوریدلو له امله را پیښ شول.
هغه شایعات چې باعث د شهادت د حضرت عثمان رضی الله عنه شول لاندي ترتیب باندی ده:
خلکو د مصر د والی خپل نه چې نوم یي عبد الله ابن سرح وه، دحضرت عثمان رضی الله عنه حضور ته راغلل له هغه نه یي شکایت وکړ عثمان رضی الله عنه هغوی ته وویل: تاسو یو څوک انتخاب کړی، چي هغه زه تاسو ته پحیث د والی مقرر کړم؛ هغوی محمد ابن ابی بکر پیشنهاد کړ ، حضرت عثمان رضی الله تعالی عنه هغه په حیث د والی مقرر کړ.هغه ته یي مکتوب ورکړ، محمد ابن ابی بکر دخپلو څو ملگرو، مهاجرینو او معترضینو نه چې مصر نه راغلی وو بیرته مصرته روان شول. پس له دری ورځو مزل نه وروستو یو غلام یي ولیده چې تیزی سره روان وو؛ هغه یي پس له شک نه وروستو گرفتار کړ او هغه نه یي پوښتنه وکړه چیرته زی؛ هغه وویل : د مصر د والی طرف ته زم، د هغه نه یي پوښتنه وکړه د چا غلام یي؛ لومړی یی وویل : دامیر المومنین غلام یم، بیایي وویل : د مروان غلام یم، بیا یي تری پوښتنه وکړه کوم خط د سره شته، هغه وویل نه نشته، غلام یي تلاشی کړ، څه شی یي ورسر ه پیدا نکړ، هغه سره یي یوه کوزه د اوبو وه چې اوبه په کی نه وی، د کوزی په منځ کی یي یو خط پیدا کړ ، وی لیدل چې هغه خط په نوم د عبدالله ابن ابی سرح لیکل شوی وه، او په هغه کی لیکلی شوي وو، کله چې محمد ابن ابی بکر او ملگری هلته در ورسیدل ده هغوی قتلولو لپاره پلان جور کړ او هغوی قتل کړه.

باالاخره غلامی ونیو او ځان سره یي مدینه منوری ته راوست ، او اصحاب کرام یي په مدینه منوره کی له دی واقعي نه خبر کړل، یو څو صحابه رضوان الله تعالی علیهم اجمعین په شمول د حضرت علی زبیر، طلحه رضی الله عنهم د خط او دغلام سره یو ځای حضرت عثمان رضی الله عنهم ته ورغلل او د حضرت عثمان رضی الله عنه نه یي پوښتنه وکړه چې دا غلام ستاسو دي عثمان رضی الله عنه وویل هو دا غلام زما دی، او دا اوښ هم ستاسو دی هغه وویل دا هم زمادی ، داخط تاسو لیکلی دی ، هغه وویل نه ! بیا قسم وخوړچې دا خط ما نه ده لیکلی او په دی می امر هم نه دی کړی او په دی خبر هم نه یم. علی رضی الله عنه ورته وویل څنگه خبره ده، چې غلام، اوښ او مهر ستا دی او ته خبر هم نه یي؟

بیا په دی خط پوه شو چې دا خط د مروان دی او حال دا ده چې مروان د حضرت عثمان رضی الله عنه په کور کی وو ا و د حضرت عثمان رضی الله عنه نه یي غوښتنه وکړه چې مروان دوی ته اوسپاری،حضرت عثمان رضی الله عنه د مروان د ورکړی نه انکار وکړ نو خلک په غصه شول او د حضرت عثمان رضی الله عنه کور یي محاصره کړ بالاخره اوبه یي هم پری بندی کړی دا خبر حضرت علی رضی الله عنه ته ورسیده چې دا معترضین اراده د شهادت د حضرت عثمان رضی الله عنه لری ،علی رضی الله عنه دساتنی د حضرت عثمان رضی الله عنه د پاره حضرت حسن وحسین رضی الله عنهما ولیږل او طلحه اوزبیر رضی الله عنهما هم خپل ځامن د ساتنی دپاره ور ولیږل.

خلاصه د شهادت د امیر المومنین هغه شایعه وه چه په نوم ده مروان لیکلی شوی وه او ده خلکو په مینځ کی نشر شوی وه.[تاریخ الخلفاء].

حضرت حسین رضی الله عنه شایعاتو او درواغو د عراق تللو ته آماده کړچې په نتیجه کې داسې بده حادثه رامنځ ته شوه.

شایعات او بې بنیاده خبرونه خپرول د مشرکانو عادت او لار ده.

د اسلام د لومړۍ ورځې څخه مشرکانو ډول ډول شایعات خپرول .کله چې صحابه کرامو حبشې ته هجرت وکړ، مشرکانو دا خبره خپره کړه چې د اهل مکه وو اسلام قبول کړ، ددې شایعې په اساس صحابه کرام د مکې په لور راګرځیدل، کله چې مکې مکرمې ته نږدی شول ورته معلومه شوه چې دا شایعه وه او بیرته حبشې ته ستانه شول.[سیرة ابن هشام]

همداراز د أحد په غزوه کې شیطان او د شیطان ملګرو دا شایعه خپره کړه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ووژل شو چې دې شایعې د مسلمانانو په روحیه باندې منفي اثر وکړ او ځینو صحابه کرامو د جګړې څخه لاس واخیست او سلاح یې کیښوده.[ ابن هشام]

دشایعاتو او بې بنیاده خبرونه خپرول د بدګمانۍ خپرول دي:

د شایعاتو او بې بنیاده خبرونو په خپرولو سره بدګمانی ته لمن وهل دي. کله چې په یوه ټولنه کې دشایعاتو خپرول او اوریدل دود شي، په هغه ټولنه کې بیا خلک په ریښتنو خبرو هم بدګمانه وي او بیا خلك د هری خبری ته که هغه ریښتیا هم وي د شک په سترګه ګوري او د خلکو په زړونو کې د هری خبری په اړه شك او تردید پیداکیږي او اعتماد فضاء له منځه ځي.

د شایعاتو په خپرولو سره بدګماني زیاتیږي او الله تعالی د بدګمانۍ څخه منع کړی ده او بدګماني د زیاتو فتنو اساس دی. الله تعالی فرمایلي دي:{يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اجْتَنِبُوا كَثِيراً مِنَ الظَّنِّ إِنَّ بَعْضَ الظَّنِّ إِثْمٌ وَلَا تَجَسَّسُوا وَلَا يَغْتَبْ بَعْضُكُمْ بَعْضًا أَيُحِبُّ أَحَدُكُمْ أَنْ يَأْكُلَ لَحْمَ أَخِيهِ مَيْتًا فَكَرِهْتُمُوهُ وَاتَّقُوا اللهَ إِنَّ اللهَ تَوَّابٌ رَحِيمٌ} الحجرات: ١٢

ترجمه: ای هغوکسانو چه ایمان یی راوړی دی (ای مومنانو)ځان وساتی تاسی ډیرله بدګمانیوا او تهمتونونه (په خلقو باندی)بیشکه ځینی بدګمانونه او تهمتونه ګناه ده او مه لټوی تاسی پټ عیبونه دمسلمانانو اونه دی کوی غیبت ځینی ستاسی

د ځینو نورو ایا خوښوی یو له تاسی څخه دا چي وخوری غوښې د ورور خپل حال دا چي مړی وي پس بد ګڼی تاسی هغه نو د ارنګه بدوګڼی دمسلمان ورور غیبت اوعیب لټول وویریږی تاسی له الله تعالی څخه بیشکه الله ښه توبه قبلوونکی ډیر رحم والا دی.

رسول الله صلی الله علیه وسلم د بدګمانۍ څخه منع کړی ده:(إِيَّاكُمْ وَالظَّنَّ، فَإِنَّ الظَّنَّ أَكْذَبُ الْحَدِيثِ)متفق علیه

ترجمه:- ځان وساتئ له بدګمان څخه، بیشکه بدګمان زیات درواغ دي له خبرو نه.

د شایعاتو او بې بنیاده خبرونو په خپرولو او اوریدلو کې قیل وقال زیاتیږي.

کله چې په کومه ټولنه کې شایعات خپریږي او د شایعاتو باروونکي موجود وي، په هغه ټولنه کې قیل قال زیات وي. دوه کسان چې سره یو ځای کیږي لومړنی پوښتنه یې دا وي چې خلک څه وایي؟

رسول الله صلی الله علیه وسلم د قیل وقال څخه منع کړی ده. (إِنَّ اللهَ كَرِهَ لَكُمْ ثَلَاثًا: قِيلَ وَقَالَ، وَإِضَاعَةَ الْمَالِ، وَكَثْرَةَ السُّؤَالِ). متفق علیه

ترجمه:- بیشکه الله تعالی بد گرځولي دي ستاسو لپاره درې خبرې. قیل او قال، د مال ضایع کول او زیات سوالونه کول.

قيل و قال ځکه بد دی چې په قيل وقال کې د خلکو د عيبونو بحث کېږي، د خلکو غيبت په کې کيږي، په خلکو تهمت ويل کيږي او بې فائدې د خلکو حکايات او قيصې په کې کيږي.[الديباج على مسلم]
هرکله چې پيغمبرعليه السلام قيل وقال ناروا گرځولی دی نو دشايعاتو او بې بنياده خبرونه خپرول په طريق اولی سره ناروا دي.
د شايعاتو او بې بنياده خبرونو او ريدونکي بايد څه وکړي؟
څوک چې شايعات اوري بايد چې الله تعالی حاضر او ناظر وګڼي او دالله څخه وويريږي ترڅو شايعات او بې بنياده خبرونه پرته له تحقيق څخه خپاره نه کړي؛ ځکه الله تعالی د هر څه اوريدونکي او ليدونکی دی.
د شايعاتو او بې بنياده خبرونو اوريدونکي لره په کاردي چې ددغه خبرو په اړه تحقيق او پلټنه وکړي او څه چې يې اوريدلي دي په خپرولو کې يې عجله ونه کړي؛ ترڅو د هغو خلکو له جملې څخه نشي چې هرڅه اوري هغه خپروي. الله تعالی فرمايلي دي: {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنْ جَاءَكُمْ فَاسِقٌ بِنَبَإٍ فَتَبَيَّنُوا أَنْ تُصِيبُوا قَوْمًا بِجَهَالَةٍ فَتُصْبِحُوا عَلَى مَا فَعَلْتُمْ نَادِمِينَ} الحجرات: ٦
ترجمه:- ای هغو کسانو چی تاسو ايمان راوړی، که چيرته راتګ وکړ تا سوله فاسق اوبدکار! په يوه خبرسره،نوتاسوښه تحقيق پکښې وکړی له جهته دويری ددی چه وبه رسوی تاسو يوه قوم لره ضرر اوتاوان په ناپوهی سره نو پس وبه ګرزی تاسو په هغه څخه سره چی موعمل کړی دی خفه او پښيمانه.
بايد په ټولو مؤمنانو نيک ګمان ولرو او په خلکو د بد ګمان څخه ځانونه وساتو، په ځانګړی توګه هغه خبرونه نه تصديق کړو او باور ورباندې ونه کړو او نه يې نشر کړو چې د مسلمانانو پوری تړلی وي.
په هغه څه کې بحث ونه کړو او خپاره يې نکړو چې مونږ ته ورباندې پوره علم نه وي.
الله تعالی فرمايلي دي: {وَلاَ تَقْفُ مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ إِنَّ السَّمْعَ وَالْبَصَرَ وَالْفُؤَادَ كُلُّ أُولئِكَ كَانَ عَنْهُ مَسْؤُولاً} الاسراء:(٣٦)

ترجمه:- او مه کوه پيروی (تعقيب)دهغه کار چه نه وي په هغه تاته پوه (قول وی که فعل)بيشکه غوږ او سترګه او زړه؛هريو له دغو(درې واړو)دی له هغه څخه پوښتنه کړی شوی.

بايد چې دشايعاتو او بې بنياده خبرونو د خپرولو څخه ځانونه په کلکه وژغورو.

بايد چې دمسلمانانو عزت، ابرو او دهغوی غيبت بابيزه ونه ګڼو.﴿مَا يَكُونُ لَنَا أَنْ نَتَكَلَّمَ بِهَذَا سُبْحَانَكَ هَذَا بُهْتَانٌ عَظِيمٌ﴾ النور: ١٦.

ژباړه:- چې ويلي وئ تاسی نه ښايي مونږ ته دا کار چې خوله وخوځوو په دې خبره باندې، پاکي تاته ای ربه، دا دروغ دي ډيرلوی (چې ډير تړلی شوي دي دمنافقانوله خواه).

که چيرې څوک چې دشايعاتو کومه خبره واوري بايد هغه فورا تصديق نه کړي، بلکې د شايعاتو په اړه فکر وکړي او داسې دي ووايې چې دا يو خبر دی د ريښتا او دروغو دواړو احتمال لري.

که چيرې شايع شوی خبر په کوم شخص پوری تړلی وي، بايد چې هغه شخص معذور وګڼي او ددې خبری غوره محمل ورته ولټوي.ځينو بزرګانو ويلي دي: (إِذَا زَلَّ أَخٌ مِنْ إِخْوَانِكُمْ فَاطْلُبُوا لَهُ سَبْعِينَ عُذْرًا) آداب الصحبة لأبي عبد الرحمن السلمي

ژباړه:- کله چې ستا د ورونو څخه کوم ورور وښويده، نو ولټوه د هغه لپاره اويا عذرونه.

والسلام عليکم ورحمت الله وبرکاته